پوهندوی آصف بهاند ۲۰۲۲/۰۵/۰۳

لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

یو سلوډري دېرشمه برخه

نوې اختریزې لنډۍ

پنځمه برخه

بیا به اختر کې چېرې نه ځم
چې مې پر ښکلو سترګې لګې زړه مې چوینه

اختر راغلی، خو خپه دی
چې مرور اختر به څوک پخلا کوینه

اختر د نورو مبارک شه
افغان یا وړی یا په وینو تک سور وینه

د اختریزو لنډیو په لړ کې مې دا نوې اختریزې لنډۍ برابرې کړې دي:

اختر نږدې دی روژه لاړه
زهٔ کم نصیب به غاړه چا ته ورکومه

بیا به اختر کې چېرې نه ځم
چې مې پر ښکلو سترګې لګې زړه مې چوینه

اختر هم راغی، ته رانغلې
په کار مې نه دې بې له تا نه اخترونه

یاره چې ته پرې خوشحالېږې
اختر دې دوې ورځې رامخته شې مېینه

روژه په ټوکو ـ ټوکو لاړه
نه روح افزا شته نه د ګوړې شربتونه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اختر راغلی، خو خپه دی
چې مرور اختر به څوک پخلا کوینه

د افغانانو څه اختر دی
چې په هر حال یې په بمو سره لمانځینه

اختر ته هېڅوک خوشحال نه دي
چې کوراکور دي جنازې، تپیان ویرونه

اختر د نورو مبارک شه
افغان یا وړی یا په وینو تک سور وینه

اختر د نورو مبارک شه
زموږ په ښار کلي کې هره ورځ ویرونه

اختر ته هېڅ نه خوشحالېږم
یار رانه لاړ، د ګور میلمه شو نه راځینه

اختر رانشي، نو به ښه شي
زموږ پر ژوند باندې حاکم دلی غمونه

اختره اوس بختور نه یې
هرخوا ویرونه په هر څه اور لګوینه

اختره تېر شه بیا رانشي
له جنازو او ویر نه کله وزګار یونه

زموږ په کور کې اختر نه شته
خوښي هم نه شته، ټول عالم زوړند سرونه

خندا خوښي نه شته اختر کې
موږ هره ورځ جنازې وړو زغمو ویرونه

دغه اختر د خوشالۍ دی
یار مې میلمه دی د زړه غوښې ورته ږدمه

اختر نږدې شو روژه لاړه
لیلی خپل یار ته سرې منګولې رنګوینه

اختر په خپله راروان دی
تمه مې نه شته چې دلدار به مې راځینه

چې خلک خوښ وي، نو اختر وي
د دې انبار غمو به څه وي اخترونه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ